# المطففين

مکی سورة دی ۳۶ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١

تباهی او هلاکت دی( په هغو کسانو چې په تول او پیمانه کې ټګی کوی).

ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢

هغوی چې کله له خلکو په تله او پیمانه څه اخلی نو( کمی پکې نه منی او د خپل حق پحیث یې) پوره اخلی.

وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣

خو کله چې خلکو ته په تله او پیمانه څه ورکوی نو کم یې ورکوی.

أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤

آیا دوی باور نه لری چې راژوندی به کړی شی.

لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥

په یوه عظیمه ورځ( قیامت).

يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦

په هغه ورځ چې ټول خلک به د ( الله تعالی) رب العالمین په وړاندې ودریږی.

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ٧

بې له شکه( په تجارت او راکړه ورکړه کې پوره اخستل او کم ورکول خیانت او د مؤاخذې وړ دی، پوه شی چې) د خائنانو او مفسدینو عملنامې په سجین کې دی.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ٨

او ( ای مخاطبه!) ته څه پوهیږې چې سجین څه دی؟

كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٩

دا( د جهنمی مجرمینو د اعمالو د ثبت او سجل) یو دفتر دی.

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠

تباهي او هلاکت دی په دغه ورځ( قيامت) د دروغ ګڼونکو لپاره.

ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١

هغوی چې( په تکبر او عناد سره) د مکافات او مجازات د ورځی حقيقت دروغ ګڼی.

وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢

( د قيامت د مکافات او مجازات له مسلم حقيقت نه) يوازې هغه کسان سترګې پټوی چې( د الله تعالی له ربوبيت، عدل، قدرت او حکمت او نورو عالی صفاتو څخه منکر او له الهی حدودو نه) تيری کوونکی دی.

إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣

( د دوی بل لوی جرم دا دی)چې کله هم ورته زمونږ آيتونه ولوستل شی نو وايی: دا خو د پخوانيو خلکو کيسې او افسانې دی.

كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤

نه -( هيڅکله نه، دوی دروغ وايی) بلکه ناوړو اعمالو يې د دوی په زړونو زنګ غورځولی دی.

كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ١٥

نه- ( بلکه دوی دروغ وايی ) دوی به د قيامت په ورځ د خپل رب له ملاقات نه بې برخې او په پردو کې به پټ وی.

ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ ٱلۡجَحِيمِ ١٦

او بيا خامخا دوزخ ته ورتلونکی دی.

ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ١٧

بيا به( هلته) ورته وويل شی دا هماغه( دوزخ) دی چې تاسو دروغ ګڼلی و.

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ١٨

هو- د نيکانو او صالحينو عملنامې په عليين کې دی.

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ١٩

( او ای مخاطبه!) ته څه پوهیږې چې علیون څه دی؟

كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٢٠

دا( په اووم آسمان کې) د نیکانو او ابرارو د عملنامو او ارواحو د ثبت او حفظ دفتر دی.

يَشۡهَدُهُ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢١

چې( الهی دربار ته) مقربین(ملائک او انسانان) به یې لیدلی شی.

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ٢٢

نیکان او ابرار به بې له شکه په نعمتونو کې وی.

عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ٢٣

په ښکلو او مجللو تختونو به تکیه وهلی ناست( او د جنت د ښکلو او زړه راکښونکو منظرو ننداره به کوی).

تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ٢٤

(ای کتونکیه) د دوی له څیرو څخه به د عیش،هوسایی او تازګی نښې روښانه وینې.

يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ ٢٥

خاص او مطهر شراب به وربانديږ څښل کیږی.

خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ٢٦

چې په( جنتی) مشکو به مهر او لاک شوی، او رغبت کوونکی او مینه وال یې( باید د دغو نعمتونو د ترلاسه کولو لپاره له ګناهونو او معاصیو څخه په ځان ساتنه او د فضایلو او عباداتو په زیاتوالی او تداوم کې ) له یو بل سره سیالی او مسابقه وکړی.

وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسۡنِيمٍ ٢٧

او دغه شراب د تسنیم له اوبو سره ګډ دی.

عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢٨

هغه چینه چې د الهی دربار مقربین ترې څښاک کولی شی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ٢٩

کافران چې( په دنیا کې یې) په مؤمنانو باندې خنداګانې کولې.

وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾

**او کله چې به د هغوی په خوا تیریدل نو وربانديٍ به يې د ملنډو ډکې خنداګانې کولې او ویل به یې، دې احمقانو ته ګوره چې د دنیا لاس په لاس عیشونه او مزې چرچې یې د آخرت د خیالی او وهمی هوسایۍ نه قربان کړی دی).**

وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾

**او( کافران) به خپلو کورونو ته په خوشالیو ستنیدل( او پخپلو باطلو عقایدو باندې مغرور او مطمئن وو).**

وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾

**او هرچیرې چې به یې مؤمنان لیدل نو د ګمراهۍ پیغورونه به یې ورکول.**

وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾

**په داسې حال کې چې دوی ته د مؤمنانو ( د هدایت او یا ګمراهۍ) د څارنې وظیفه هم نه وه سپارل شوی.**

فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾

**نو نن ( د قیامت) په ورځ مؤمنان په کافرانو خندا ګانې کوی( او وایی: همدغه احمقان وو، چې د دنیا موقتی هوسایۍ او عیشونو ته یې د آخرت په تلپاتې او ابدی نیکمرغۍ ترجیح ورکړې وه او نن د دوزخ عذاب ور په برخه دی).**

عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾

**(مؤمنان) په ښکلو مجللو تختونو ناست( او د جنت د ښکلو منظرو ) ننداره کوی.**

هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

**آیا کافرانو ته (د هغوی د ناوړو اعمالو او فاسدو عقایدو) مناسبه سزا ور نه کړی شوه؟( بیشکه چې د جهنم عذاب یې مناسبه سزا ده چې ورکړی شوه).**

**« تمت سورة المطففين بفضل الله و رحمته».**

**===================**